د هغه چا مثال چې قرآن يې حفظ کړی دی د ټړل شوي اوښانو د څښتن په څېر دی، که يې تل ټړل شوي وساتي نو پرې به برلاسی وي او که يې خلاص پرېږدي نو ترې به لاړ شي

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "د هغه چا مثال چې قرآن يې حفظ کړی دی د ټړل شوي اوښانو د څښتن په څېر دی، که يې تل ټړل شوي وساتي نو پرې به برلاسی وي او که يې خلاص پرېږدي نو ترې به لاړ شي".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه کس چې قرآن کريم يې زده کړی او تلاوت يې خپل عادت ګرځولی وي - هغه که قرآن کريم په ناظره سره وي يا په حفظ - د هغه ټړل شوي اوښ د مالک سره پرتله کړی چې په رس يې د اوښ زنګون ټړلی وي، نو که همداسې يې ټړلی وساتي ورسره به پاتې شي او که يې خوشي کړي نو ترې به لاړ شي او ورک به شي، نو که د قرآن کريم خاوند يې په تلاوت کولو او يادولو دوامدار پاتې شي نو ياد به يې پاتې شي او که يې پرېښود نو ترې هېر به شي؛ تر څو چې ژمنتيا موجوده وي، حفظ به يې پاتې وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5658